**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## د هند هندوتوا رژیم د مسلمانانو قاتلان او پر هغوی جنسي تیری کوونکي وبښل




د هند حکومت د اگسټ په ۱۵مه، په گوجرات ایالت کې ۱۱ تنه هغه هندوان ازاد کړل چې په ۲۰۰۲م کال کې د دولت له لوري د مسلمانانو نسل وژنې په ترځ کې پر یوې مسلمانې ښځې، بلقیس بانو د ډله ییز جنسي تیري او د هغې د درې کلنې لور په گډون د هغې د کورنۍ د څو غړو د وژلو په جرم په عمري بند محکوم شوي وو. بلقیس د پنځو میاشتو امېندواره وه چې دغو کسانو برید پرې وکړ؛ لور یې د دې په مخ کې پر سر په ډبره وویشته او ځای پرځای یې ووژله. دا تېری کوونکي له ازادېدو وروسته د بلقیس د اوسني استوگنځي نیږدې کلیو ته راغلل او د ازادۍ په خوښۍ کې یې خواږه ووېشل؛ د بلقیس بانو د ژوند او د هغې د کورنۍ د خوندیتوب وېره پر ځای پاتې شوه.

د گوجرات حکومت چې د لومړي وزیر نریندرا مودي هندو ملتپاله او مسلمان ضد (BJP) گوند له لوري رهبري کېږي، دا کسان یې د هند د خپلواکۍ د ۷۵مې کلیزې په مناسبت ازاد کړل؛ دا په داسې حال کې ده چې مودي د همدې خپلواکۍ لمانځلو په غونډه کې له هندیانو وغوښتل چې د ښځو کرامت ته درناوی وکړي. په دې ورځ د هندو جنسي تېری کوونکو ازادول ښیي چې د هند دولت له لوري مسلمانې ښځې له خوندیتوب څخه مستثنی دي او د همدې حکومت تر چتر لاندې د مسلمانانو د قاتلانو او پر دوی د تېري کوونکو بښل د هند د مسلمانانو راتلونکی دی. په حقیقت کې، د هندوانو بېلابېلو مذهبي مشرانو او د هندوتوا مشرانو په عامه توگه د مسلمانانو پر وړاندې د نسل وژنې غږ پورته کړی دی. د روان کال په اپرېل کې، په اتراپردېش ایالت د خیراباد سیمې د یوه

جومات په مخ کې د خبرو پر مهال د هندوانو یوه مشر پر مسلمانو ښځو د جنسي تېري او د هغوی د اختطاف گواښ وکړ.

دا د هندوتوا انصاف دی، چې د مسلمانانو قاتلانو او پر هغوی جنسي تېری کوونکو ته ازادي ډالۍ کوي او هغو کسانو ته په ښکاره د تفرقې او تاوتریخوالي زیاتولو اجازه ورکوي چې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې کرکه خپروي. نن ورځ، په هند کې مسلمانې ښځې او نجونې د دوی پر ځان او عزت د برید په وېره کې ژوند کوي، ځکه دوی پوهېږي چې د دې جرمونو ترسره کوونکو ته د اتلانو په سترگه کتل کېږي؛ هېڅ داسې اداره نشته چې له دوی څخه دفاع وکړي او د اسلام دښمنان د هغوی د وحشتناکو جنایتونو له امله د عدالت مېز ته راکش کړي. سربېره پر دې، غربي دولتونه چې په ډېره چالاکۍ په اسلامي احکامو او شریعت پورې درواغ تړي، اسلام پر ښځو په ظلم او د هغوی د حقونو په تر پښو لاندې کولو تورنوي؛ د مالي گټو لپاره په ښکاره د مودي او د هغه رژیم ته غېږه پرانېزي او د بلقیس په څېر ښځو پر وړاندې د عدالت پلي کولو په اړه چوپه خوله دي. له دې څخه ښکاري چې د مسلمانو ښځو د هوساینې په اړه دوی هېڅ اندېښنه نه لري او د ښځو د حقونو ټولې خبرې یوازې یوه وسیله ده چې د مسلمانو ټولنو په منځ کې د دوی د سیکولار، اسلام ضد اجنډا د دود کولو لپاره کار ترې اخیستل کېږي.

اسلام ته د مسلمانې ښځې د عزت ارزښت، بې مثاله دی. د دې ارزښت لپاره زموږ گران رسول صلی الله علیه وسلم یوه یهودي قبیله- بنو قینقاع چې په مدینه کې یې د یوې مسلمانې سپکاوی کړی و- له مدینې څخه وشړله. د دې ارزښت لپاره د خلافت تر چتر لاندې مسلمانو مشرانو جگړې کولې او د دغه ارزښت د ساتنې او دفاع لپار یې هېوادونه فتح کول؛ په ۸مه پېړۍ کې خلیفه ولید بن عبدالملک د مسلمان جنرال، محمد بن قاسم په مشرۍ یو لوی لښکر جوړ کړ چې د هند د ظالم هندو پاچا، راجا دایر له لوري زنداني شوې ښځې وژغوري. په نهمه پېړۍ کې خلیفه معتصم باالله د ترکیې عموریې ښار ته یو لوی لښکر واستاوه، چې د رومیانو لخوا د یوې نیول شوې او ځورول شوې مسلمانې ښځې غچ واخلي. په حقیقت کې د دې امت د میندو او لوڼو لپاره عدالت، خوندیتوب او پالنه د نبوت پر منهج د راشده خلافت دولت له راگرځېدو پرته هېڅکله نه رامنځته کېږي. خلافت په رېښتیني ډول د دوی د گټو او دین دفاع کوي، هوساینې ته یې پام کوي او عدالت ورته ټینگوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«الإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ»**

**ژباړه:** *«امام (خلیفه) ساتونکی دی او د خپل رعیت مسؤلیت لري»*

**ډاکټر نسرین نواز**

**د حزب التحریر ـ ښځو برخې د مطبوعاتي دفتر مشره**